یـــونامـــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندویه پلاوي دفتر
دستراتیژیکو اړیکو دفتر
مطبوعاتي بيانيه
www.unamanews.org/pashto

یوناما په عدلي او قضایي چارواکو برید غندي

کابل، د ۲۰۱۶ کال د مي ۲۵مه ـ د ملګرو ملتونو سیاسي پلاوی یوناما د کابل په لویدیځ کې ننی برید غندي، چې یوولس ملکیان پکې ووژل شول او لس نور ټپیان شول.

یوه ځانمرګي برید کونکي د میدان وردګو د ولایتي محکمې د کارکونکو د عملي په موټر برید وکړ. دغه چاودنه ، چې د کابل ولایت د پغمان ولسوالی د باغ داود د پله په سیمه کې رامنځ ته شوه د ملکي وګړو د بس موټر سورلی او په لاره تیریدونکي خلک پکې په نښه، ووژل او ټپیان شول، چې شپږ ماشومان هم پکې شامل دي .

د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ له ۱ نیټې راهیسې، یوناما په قاضیانو، ځارنوالانو اوعدلي کارکونکو ۱۴ جلا جلا بریدونه تثبت کړي، چې په ترڅ کې یې نهه ملکیان وژل شوي او ۱۹ نور ټپیان شویدي. پردې سربیره د عدلي او قضایي کارکونکو د تښتوني ځلور پیښې یې هم تثبت کړیدي. طالبانو د ۷ پیښو مسولیت په غاړه اخیستی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي نیکولاس هیسم وویل: "پرعدلي او قضایي کارکونکو بریدونه ناځوانمردانه او د نړیوال بشري قانون ضد ګرنه ده." هغه وویل: "زه په صریح او روښانه ټکو ننی برید غندم او غواړم چې ترسره کونکي یې محاکمې ته را کښل شي. زه په چارواکو غږ کوم ، چې د عدلي او قضایي کارکونکو د مناسب خوندیتوب لپاره خپل ټول توان په کار واچوي."

ملګري ملتونه یو ځل بیا د جګړې ټولو بښکیلوغاړو ته نړیوال بشري قانون ته درناوی وریادوي، چې د ملکي وګړو پرضد هرډول برید او بې توپیره جنګي تاکتیک کارونه چې ټولو ته زیان رسوي، په مشخص ډول د ځانمرګونو بریدونو او د چاودیدونکو توکو کارول منع کوي.

یوناما دزړه له تله له هغو کسانو سره خپله خواخوږي څرګندوي، چې په دغو بریدونکو کې یې خپل دوستان او خپلواک وژل شوي او ټپیانو ته عاجله روغتیا غواړي.

***